مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۳/۰۴/۱۵

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

(څوارلسمه برخه)




(د پاکستان سیاسي نقشه)

**د پاکستان جوړښت او پاشل (۲)**

انګرېزانو د پاکستان په نوم هېواد له لاندې شپږو مختلفو سیمو او توکمونو جوړ کړ: بنګلادېش، پنجاب، سېند، کشمیر، بلوچستان او پښتونخوا.

ـ **بنګلادېش:** بنګلادېش چې د هندوستان خاوره وه، وروسته د شرقي پاکستان په نوم یاد شو.([1])

ـ **پنجاب:** د پنجاب سیمه د تاریخ په اوږدو کې د هندوستان برخه پاتې شوې ده.

ـ **سېند:** د سېند سیمه چې کله د هند او کله د افغانستان پر واکمنۍ پورې تړلې وه.

ـ **بلوچستان:** د بلوچستان سیمه د تاریخي شواهدو پر بنسټ د آریانا او لوی خراسان یو ولایت ؤ خو د احمد شاه بابا له واکمنۍ راپه‌دېخوا تر ۱۸۹۳ز کال پورې د افغانستان برخه پاتې شوې ده، د امیر

(1) د ۱۹۷۱ز، کال جګړه د پاکستان لپاره ډېره تاریخي بدناموونکې جګړه وه، نوموړې جګړه هم د پاکستان پوځ لخوا، په ننې بنګلادېش(شرقي پاکستان) کې د آزادۍ غوښتونکو بنګالیانو پر وړاندې په ډېره ظالمانه دول پیل شوه، په دغه جګړه کې هندوستان له شرقي پاکستان څخه ملاتړ وکړ، په پایله کې پاکستان ماتې وخوړه او د دسامبر په ۱۹۷۱/۱۶، پاکستانی پوځ د ډاکې په ښار کې سلامي شو او بنګلادېش خپله خپلواکي په رسمي توګه اعلان کړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عبدالرحمن خان او انګرېزانو تر منځ د ډیورنډ کرښې د تړون سره، سره تر نن پورې، د کرښې دواړو لور پښتنو او بلوڅو د يوې کورنۍ په څېر نه شلېدونکي اړيکي ساتلي دي.
د هند د وېش پر مهال د بلوچستان د قلات خان، د هند وايسرای او جناح تر منځ يو تړون شوی ؤ چې په هغه کې دوه شرطونه راغلي دي:

۱ـ کله چې د اګسټ په ۱۵مه [۱۹۴۷ز، کال] پیرنګی د هندوستان اختيار پرېږدي نو د قلات رياست حيثيت به په بېرته هغې مقام ته ورسي کله چې په ۱۸۳۷ز، کال کې د خان قلات او انګرېز حاکم په منځ کې عهدنامه شوي ده.

۲ـ دا چې که چيرې د قلات خان او د حکومت پاکستان تر منځ څه روغه جوړه د الحاق ونه شي نو بيا رياست قلات دا حق لري چې هغه د افغانستان سره خپل الحاق وکړي.

په دې معاهده د خان قلات، [وايسرای] ماونټ بيټن او جناح صاحت دستخط هم موجود دی. (عبدالولي خان: رښتيا، رښتيا دي، پيرنګی- مسلم لیګ او مونږ. ۳۰۰مخ)

د بلوڅو يو غښتلی مشر او د سېند اعلی وزير خان بهادر، الله بخش سومرو، د پاکستان د جوړېدو مخالف ؤ، د هغه مخالفت په اړه فخر افغان، پاچا خان ليکي:«... په لاره کې مي الله بخش سره ملاقات وشو، د هندوستان په سياست مو ډېرې خبرې وکړې هغه د پاکستان د جوړيدو په حق کې نه ؤ ځکه چې د پنجابيانو نه ډېر زړه ستړی ؤ او پنجابيانو سره يو ځای کېدو ته تيار نه ؤ، هغه دې خبرې ته تيار ؤ چې که چيرې سېند، بلوچستان، سرحد [پښتونخوا] او کشمير يو ځای شول نو دا به ډېره ښه وي.» (زما ژوند او جدوجهد. ۶۳۰مخ)

ـ **پښتونخوا:** چې د پښتنو سيمه ده او د لوی افغانستان نه بېلېدونکي خاوره ده. لکه وړاندې چې يادونه وشوه، د بلوچستان او پښتونخوا سيمې د انګرېزانو او امير عبدالرحمن خان (چې د انګرېزانو له خوا ټاکل شوی ؤ) د ۱۸۹۳ز، کال د يو ناولي تړون له امله له افغانستان څخه په جبرې توګه جلا شوي دي.
ولي خان په خواشينی سره د خپل پښتون ولس د توټه کيدو په اړه وايي: «پيرنګي ځرنګ دا د پښتون قام توټې، توټې کړ: څه په افغانستان، څه په ياغيستان (آزاد قبايل) څه قبايلي علاقه، څه ايجنسي، او څه يې رياستونه (سوات، چترال، دير، امب، خار او ...) او څه يې د خپلې خېټې لاندې د صوبه سرحد په نامه لاندې کړ.» (رښتيا، رښتيا دي. ۱۴۱مخ)


(ګاندي جي او فخر افغان خان عبدالغفار خان)

د ۱۸۹۳ز، کال تړون کوم حقوقي او بين المللي حيثيت نه لري، خبره د زور ده، ډيورنډ تړون هغه مهال خپل اهميت له لاسه ورکړ چې انګرېزان له زور او فشار سره مخ شول، هغه مهال چې دويمه نړيواله جګړه ونښته او محور هېوادونو په جګړه کې پرمخ تګ وکړ نو «کله چې جاپان برما واخيسته [ونيوله] او په کلکته يي بمباري وکړه نو پيرنګی پوه شو چې اوس زما هم خير نه شته نو پيرنګي د خپله جانبه د افغانستان حکومت ته دا تجويز پيش کړ چې هغوی دي د صوبه سرحد او بلوچستان د دې علاقو مطالبه د حکومت بريتانيې نه وکړي.» (هماغه کتاب. ۳۵۰مخ)
خو وروسته چې متفق هېوادونه برلاسي شول انګرېزان په خپله خبره ونه درېدل، په پښتونخوا او بلوچستان کې پاتې شول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې هند وېشل کېده، له بده مرغه نه یوازې دا چې انګرېزانو له پاچا خان او پښتنو سره غداري وکړه بلکې د هند کانګرس ګوند، جواهر لال نهرو او نورو چې پاچا خان یې کلک متحد او پلوی ؤ په لوی لاس سخته غداري او ناځواني وکړه، تر دې چې ګاندي جي هم د نهرو لاره غوره کړه او د پښتونخوا خاوره، پاچا خان او پلویان یې لاس تړلي خپلو دښمنانو، د انګرېزانو لاس پوڅو (مسلم لیګیانو) ته په لاس ورکړل او پښتونخوا یې د پاکستان برخه وبلله.

وړاندې له دې په ۱۹۴۶ز، کال کې چې جواهر لال نهرو د هند د مؤقت حکومت صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر ؤ د انګرېزانو په خبر یې په سپین سترګۍ سره د ډیورنډ کرښې او آباسیند تر منځ د پښتنو خاورې دعوه وکړه چې ګواکې یاده سیمه د هند برخه ده، د نهرو په دې ډول بې بنسټه ادعا باندې راجیف ډوګرا چې (د ډیورنډ توره کرښه) کتاب یې لیکلی (د نهرو تعصب) تر سرلیک لاندې داسې لیکي:

«پر کومه لاره چې نهرو تګ کول غوښتل د مهاتما ګاندي او په کانګرس کې د هغه د ملګرو له لارې بېله وه... بل خوا نهرو په مؤقت حکومت کې هم د وایسرای په اجرایي شورا کې د بهرنیو اړیکو مرستیال او غړی ؤ، هغه په څرګنده وویل چې افغان تبلیغاتو لمسولی دی، نوموړي نېغ په نېغه د جولای په ۴مه د کابینې په غونډه کې چې د مسلم لیګ لیاقت علي خان هم ناست ؤ وویل:«... د افغانستان راډیو او رسنۍ یو کمپاین په لاره اچولی او له شمال لویدیځو پولو سره یې د افغانستان لیوالتیا په ډاګه کړې ده، هغوی ادعا کوي چې پښتانه هندوان نه بلکې افغانان دي او هغوی باید دا آزادي ولري چې د خپل راتلونکي په هکله پرېکړه وکړي، هغوی ته باید په دې لار کې خنډونه رامنځ ته نه شي، په راروانه ټولپوښتنه کې باید دوی ته حق ورکړل شي چې له افغانستان سره یو ځای شي یا هم ځان ته بېل خپلواک دولت جوړ کړي.»


(د هند وروستني وایسرای، لارډ ماونټ بېټن مېرمن او جواهر لال نهرو)

راجیف ډوګرا لیکي:«د دغو څرګندونو پر وخت له بده مرغه نهرو اجازه ورکړه چې تعصب یې پر عقل برلاسی وي، د یو نامتو لیکوال او د یو داسې تاریخ پوه چې (د هند کشف) او (د نړۍ تاریخ ته لنډه کتنه) په شان کتابونه یې لیکلي دي، آیا دی په دې پوهېدلو چې څه وایي؟ یو داسې سیاست وال چې د سیاست په برخه کې پر خپلو کړنو او مفکورو ویاړي، هغه وخت یې وجدان په تکلیف نه شو، کله یې چې د افغانانو دا ادعا تر پوښتنې لاندې راوسته چې: پښتانه افغانان دي؟

تاریخ ثابته کړې چې پښتانه افغانان دي، د هغوی (D. N. A) چیغې وهي چې له پنجاب او ټول هند سره هېڅ ډول اړیکه نه لري خو لا تر اوسه نهرو دوی او د دوی ریښې نه منلې، له بده مرغه هغه زیاته کړه:«... د هند دولت له ډیورنډ کرښې تر آباسیند پورې سیمو د بیرته ګرځولو ادعا بې بنسټه وبلله او روښانه یې کړه چې د خپلواک پښتون دولت د رامنځ ته کولو په هکله د هند او افغان دولت تر منځ کومه خبره نه شته... .» (راجیف ډوګرا: د ډیورنډ توره کرښه. ژباړن: بابرزی هیواد دوست. ۳۰۵-۳۰۴مخونه)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاچا خان د دغې ستري تاریخي غداری چې له ده سره د انګریزانو او دغه بې دینه (2) تش په نوم هندو پنډت نهرو له خوا ترسره شوه وایي:**«زه وایم چې دا یو سازش ؤ، دا یوه بې وفایي وه او یوه غداري وه چې زموږ سره وشوه.»** (زما ژوند او جدوجهد.۷۸۵مخ)

د وېش پر مهال په پښتونخوا کې د پاچا خان ورور ډاکټر خان صاحب ایالتي حکومت جوړ کړی ؤ خو واک د انګرېز په لاس کې ؤ، د پښتونخوا «د صوبې جرګې فیصله وکړه چې که سرکار دلته خامخا ریفرنډم کوي نو بیا په کار دي چې پښتنو له پوره حق خودارادیت ورکړي او د هندوستان او پاکستان نه علاوه د پښتنو نه په خپلې آزادې صوبې پښتونستان باند هم ووټ واخلي خو چې کله پیرنګیانو د دې مطالبې د منلو نه انکار وکړو او د آزاد پښتونستان مطالبه یې په ریفرنډم کې شامله نه کړه نو بیا جرګې دا فیصله وکړه چې چونکه کانګرس تقسیم هند منلی دی نو د دې وجې نه دلته ریفرنډم ته هېڅ ضرورت پاتې نه شو او که حکومت خامخا ریفرنډم کوي نو موږ به په هغې کې حصه نه اخلو. (هماغه کتاب.۷۸۱مخ)

هغه وو چې پښتنو د انګرېزانو او مسلم لیګ په جعلي انتخاباتو کې برخه وانه خیستله.
پاچا خان د خپلو خاطرو د کتاب په پای کې په ډېرې مایوسی او ناهیلی سره د نهرو، کانګرس او انګرېزانو غداري په یوه لنډۍ کې یادوي:

**د زړه په باغ مې ږلی وشوه**
**بویه چې بیا سپرلی راځي سپېرې ګلونه**




(د خدايي خدمتګارانو رهبر، فخر افغان خان عبدالغفار خان، پاچا خان)

**ـ جمو او کشمیر:** د جمو او کشمیر سیمه په تاریخي لحاظ د سپند سیمې په خبر، په بېلابېلو زمانو کې د هند او افغانستان تر واک لاندې پاتې شوې ده، هغه مهال چې هند وېشل کېده، د کشمیر مهاراجه هري سینګ د جمو او کشمیر سیمه په خپل سر د هند برخه اعلان کړه او هندي ځواکونه یې سیمې ته راوغوښتل، د کشمیر والي هري سینګ د مسلم لیګ ګوند د یوې ناولې پرېکړې پر بنسټ کشمیر هند ته ورتسلیم کړ. «مسلم لیګ د ریاستونو په هکله دا اعلان کړی دی چې د ریاست الحاق به د ریاست

---

(2): خلک جواهر لال نهرو د هندوانو پنډت بولي خو حقیقت دا دی چې نوموړی یو بې دینه کس دی، هغه په خپل کتاب (کشف هند دویم توک، ۹۲۲مخ کې لیکلي:«زه مذهبي عقیده نه لرم او معتقد یم چې یوه اندازه لامذهبي د انسان جسم او روح ته ګټه رسوي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

حکمران کوي نو په دا شان مسلم لیګ د خپله لاسه د کشمیر د قسمت د فیصلي لار آزاده کړه او دغه ریاست یي په جونګه کي هندوستان ته ډالی ورکړو.» (ربنتیا، ربنتیا دي. ۳۰۶مخ)

د یادوله ده چي د پاکستان مشرانو د کشمیر د نیولو په موخه له هند سره د جګړي هوډ وکړ خو د پاکستان پوځ چي له هند څخه راتبنتیدلی، نامنظم او کمزوری پوځ ؤ، له هندي پوځ سره یی د جګړي ځواک نه درلود، هغه وو چي یو پښتون بریګېډیر اکبر خان د کشمیر د نیولو په موخه د پښتنو له قبایلي سیمو څخه ۱۴زره جنګیالي وروغوښتل او د ۱۹۴۷ز، کال د اکتوبر په ۲۹مه نېټه، نیمه شپه پښتانه قبایل د کشمیر درو ته ننوتل، دوی په پنځو ورځو کي ۱۱۵ میله مزل وهلی ؤ او سرینګر ورته ۴ میله وړاندي پروت ؤ، د ۱۴زرو پښتنو له ډلي ۳۰۰۰ تنه ژوندي پاتي شول، نور ۱۱ زره پښتانه په کشمیر کي ووژل شول. (د کشمیر غزا-۱۹۴۷م. د صفیه حلیم له لیکني څخه)
د کشمیر جګړه د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب په دې شرط ودرول شوه چي په راتلونکي کي به په کشمیر کي ټولپوښتنه کیږي چي له هند سره پاتي کیږي که له پاکستان سره یا خپلواک پاتي کیږي خو دغه ټولپوښتنه تر نن ورځي پورې ونه شوه. «د جمو او کشمیر ۷۸۰۰۰ کیلومتره مربع سیمه چي د پښتنو په وینو ونیول شوه، د پاکستان تر واک لاندې د (آزاد کشمیر) په نوم ونومول شوه او د (جمو کشمیر) مهمه سیمه د هند تر واک لاندې پاتي شوه.
پښتانه د خدای ډېر کړي، عجب خلک دي، چا چي نرمه او خوږه خبره ورته وکړه، یا د دین په لاره کي د جهاد غږ پرې وشي، پرته له دې چي فکر وکړي، ښه او بد یي وسنجوي له خپلو سرونو تېرېږي، وایی چي د کشمیر د جګړې له امله په وزیرستان کي د یتمانو لښکرې جوړې شوې.

نېټه:۱۴۰۲/۱/۲۷ل. ل
نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ